**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۲۳** (از ۳۰ جوزا الی ٦ سرطان ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

## موج ناامنی از دروازۀ پارلمان تا سرحد آمو

- حمله‌ای نمادین برای چه هدفی؟ ........ ۴
- پشت پردۀ حمله به پارلمان ........ ۵
- ضعف دولت و ائتلاف رهبران شمال ........ ۵
- نتیجه گیری: ........ ٦

## د روسیې او لوېدیځ روانه سړه جګړه او پر سیمه یې اغېزې

- د قضیې شالید ........ ۹
- نوې سړه جګړه ........ ۹
- د روسیې ګواښ او د لوېدیځ غبرګون ........ ۱۱
- پر سیمه او نړۍ د پیل شوې سړې جګړې اغېزې ........ ۱۱

## مقدمه

د افغانستان د پارلمان پر ودانۍ د طالب جنګياليو ډلهييز برید، د افغاني او نړيوالو رسنيو د تېرې اوونۍ د خبرونو سرليک و. دا برید د ولسي جرګې د رسمي کاري دورې له پای ته رسېدو سره او د ولسمشر د فرمان له مخې تمديد شوې دورې په لومړۍ ورځ وشو او ټاکل شوې وه چې د ملي دفاع نوماند وزير د ولسمشر د دويم مرستيال له خوا د باور رايې اخېستلو لپاره ولسي جرګې ته وروپېژندل شي.

له دغه برید سره تقريبا هممهاله د شمالي ولايت کندوز دوې ولسوالۍ هم طالبانو ونيولې او په ټوليز ډول د شمال په ګډون د هېواد په بېلابېلو سيمو کې جګړې ورځ تر بلې زور اخلي. د هېواد په شمال کې د جګړو له شدت سره، د بلخ والي عطامحمد نور او د ولسمشر لومړي مرستيال جنرال دوستم، په شمال کې د طالبانو پر خلاف د ملېشو جوړولو لپاره ايتلاف وکړ. خو د جګړو حکومتي چارواکو له خوا د ۳۵۰ زره اردو په شتون کې د مېلشو جوړولو لپاره ايتلاف په څه معنا دی؟ همدا راز د طالبانو پرله پسې بريدونو، روان وضعيت په کوم لوري روان کړی دی؟

په نړيواله کچه هم د روسيې او لوېديځ ترمنځ رواني سړې جګړې تېره اوونۍ يو ځل بيا د نړيوالو پام ځان ته اړولی و. د روسيې د ولسمشر وروستيو څرګندونو، اروپا ته د امريکا د دفاع وزير پر سفر او بيا په بلجيم کې د ناټو د دفاع وزيرانو پر غونډه اغېز ښندلی و. نړيوالو مطبوعاتو هم د پوټين څرګندونې او د لوېديځ غبرګون د سړې جګړې يوه سيناريو وبلله. په ټوله کې د تېرې لسيزې پېښې په تېره بيا د اوکراين قضيې د نړيوال نظام روانه واکمنې وننګوله او نړيوال څېړونکي د دويمې سړې جګړې اصطلاح ورته کاروي. پوښتنه دا ده چې د دې سړې جګړې اغېز به پر سيمه او نړۍ څه وي؟

د ستراتېژيکو او سيمهييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې، په پورتنيو موضوعاتو د مرکز د خپرنيزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# موج ناامنی از دروازۀ پارلمان تا سرحد آمو



حملۀ روز یکشنبه 21 جون طالبان به پارلمان در مطبوعات سراسر جهان بازتاب وسیعی یافت بدون اینکه به سوالات جدی که در این رابطه به میان آمده بود، از طرف نیروهای امنیتی افغان جواب قناعت بخش داده شده باشد. رسانه‌های جانبدار امریکا در افغانستان که تا قبل از آنروز روی مشروعیت و عدم مشروعیت پارلمان بعد از اول سرطان به بحث می‌پرداختند، بعد از این حمله، ناگهان به حمایت از پارلمان برخاستند و این بار از "شکسته شدن حرمت خانۀ ملت به دست دشمنان ملت" سخن گفتند و برای گریز از سوالات مهمی که به میان آمده بود، به تبلیغ در مورد سربازی پرداختند که مدعی شد شش تن از مهاجمان را با شش گلوله و بدون اینکه گلوله‌ای را ضایع کرده باشد، از پای درآورد.

همزمان با این جریان، میان جنرال دوستم و عطامحمد نور ائتلافی به هدف جنگ با طالبان شکل گرفت تا جلو پیشروی‌های آنان در شمال گرفته شود. وقتی معاون اول رئیس جمهور به جای استفاده از نیروهای مسلح رسمی کشور در صدد ملیشه‌سازی است، افغانستان به کدام سمت خواهد رفت؟

## حمله‌ای نمادین برای چه هدفی؟

برای طالبان حملات گزینشی و مناسبتی که بیشتر شکل نمادین دارد، بسیار مهم است. چنین حملات معمولا در شرایطی به وقوع می‌پیوندد که چشم و ذهن رسانه‌ها در داخل وخارج متوجه برنامه‌ای است که به مناسبت خاص برگزار می‌گردد.

چنین حملات ممکن است تلفاتی به مقامات یا نیروهای دولتی نرساند و گاهی به نظر می‌رسد که طالبان در رسیدن به هدف خویش ناکام شدند و حمله جز تلفات به خود مهاجمان، دست‌آوردی نداشته است اما این مسئله برای طالبان مهم نیست. آنچه مهم است تاثیر این جریان بر ذهنیت‌ها در داخل و خارج است که توسط رسانه‌ها بازتاب می‌یابد و ضعف دولت را به نمایش می‌گذارد. این حملات مانند نمایش در صحنۀ تئاتر را می‌ماند که در آن هدف بازیگران، تحت تاثیر قراردادن هرچه بیشتر تماشاچیان است.

چند سال قبل در مراسم تجلیل از روز استقلال، طالبان دست به حمله‌ای زدند که موجب برهم خوردن آن مراسم شد. فرار نیروهای نظامی در آن مراسم که با یونیفورم‌های مجلل فقط به منظور نمایش فراخوانده شده بودند، در سطح بین‌المللی بازتاب وسیع داشت و از آن بعد حکومت افغانستان از اجرای چنان مراسم دست برداشت. دست برداشتن دولت از اجرای مراسم در "محیطهای باز" پیروزی برای طالبان به شمار آمد در حالیکه در گذشته اجرای چنین مراسم با حضور مردم، نمایانگر رابطۀ خوب میان دولت و مردم تلقی می‌شد.

حمله به پارلمان حتی از حمله به مراسم رسم وگذشت روز استقلال نیز نمادین‌تر بود. قرار بود که در این روز معاون دوم رئیس جمهور، نامزد وزیر دفاع را به پارلمان معرفی نماید. هنگام ورود آن‌ها به تالار ناگهان انفجاری به وقوع پیوست و تالار را گرد وخاک فرا گرفت. مراسم تعطیل گردید.

طالبان در 8 ثور 1387 (27 اپریل 2008) به مراسم جشن پیروزی مجاهدین در کابل حمله بردند. آن‌ها بعد از این حمله، جریان عملیات خود در این مراسم را در یک کلپ ویدیویی به دست نشر سپردند. در آن تصاویر دیده می‌شد که در جایی که گویا مقر فرماندهی آن عملیات بود، چند نفر که صورت‌های شان مشخص نیست جریان مراسم را از طریق تلویزیون تماشا می‌کنند. زمانیکه سرود ملی نواخته می‌شود و حضار به غرض ادای احترام به پا می‌خیزند، یکی از افراد توسط تیلفون با مهاجمان تماس می‌گیرد و با الله اکبر فرمان حمله را صادر می‌کند.

## پشت پردۀ حمله به پارلمان

در جریان حمله به مراسم 8 ثور، مهاجمان از قبل در یک ساختمان مشرف بر مراسم جابجا شده بودند و بنابراین تصمیم در مورد زمان حمله در اختیار خود آنان بود، اما در مورد حمله به پارلمان، موضوع پیچیده‌تر است. طوریکه در تصاویر از داخل تالار ولسی جرگه مشخص است، انفجار موتر بمب‌گذاری شده دقیقا زمانی صورت می‌گیرد که معاون اول و نامزد وزیر وزارت دفاع قصد ورود به تالار را دارند. بنابراین مشخص است که کسانی که فرماندهی این عملیات را به عهده داشتند، از طریق تلویزیون شاهد لحظه به لحظۀ جریانات بودند. زمانیکه رئیس ولسی جرگه ورود معاون رئیس جمهور و نامزد وزارت دفاع را اعلام می‌دارد، انفجار بزرگ به وقوع می‌پیوندد تا سمبولیک بودن این حمله را به نمایش بگذارد. دقت در لحظۀ انفجار، نشان از دست‌های قدرتمند پشت پرده در این ماجرا دارد.

به گفتۀ شاهدان عینی، موتر منفجر شده شبیه به لندکروزر ضد گلوله و با شیشه‌های سیاه بود. مهاجمین با لباس‌های اردوی ملی که همه مسلح به راکت و تفنگ‌های خودکار بودند از آن به سرعت در وسط جادۀ دارلامان پیاده شدند و موتر سپس با سرعت خود را به دیوار کوبید و منفجر شد. مهاجمین از سرک به سوی ساختمان شورا به فیر راکت پرداختند و سپس تلاش کردند تا خود را به ساختمان نیم‌کارۀ کنار سرک برسانند، اما از طرف یکی از محافظین ساختمان که مربوط به یک شرکت خصوصی است، هدف قرار گرفتند.

معمولا در حملاتی از این دست که از جانب طالبان صورت می‌گیرد، اولین سوالی که مطرح می‌شود این است که مهاجمان چگونه قادر اند تا در محلات به شدت تحت نظارت امنیتی، همراه با مقدار زیادی از جنگ افزارهای سبک و سنگین وارد شوند. این کار در طول حداقل ده سال گذشته ده‌ها بار در کابل صورت گرفته است. در هر مورد مقامات مسؤول وعده داده‌اند که در این مورد تحقیق خواهند کرد، اما هیچگاه نتیجۀ تحقیقات مشخص نشده است.

## ضعف دولت و ائتلاف رهبران شمال

مهاجمین با حمله به پارلمان در حقیقت سر خود را به دیوار کوبیدند و قادر نشدند تا به سوی پارلمان راه باز کنند، اما این حمله انتقادهای تندی را متوجه حکومت وحدت ملی ساخت. نکتۀ عجیب در این ماجرا این است که طالبان در ابتدا مسؤولیت حمله را به عهده گرفتند اما برخلاف معمول در مورد توضیحات بیشتر ندادند. سایت‌های طالبان پر از اخبار در مورد جنگ‌های چهاردره و تکذیب خبر بازپس‌گیری آن از طرف دولت بود و هرچند وعده داده بودند که جزئیات خبر را بعدا به نشر خواهند سپرد، اما از جزئیات خبری نشد.

در روزهای قبل از حمله به پارلمان، طالبان دو ولسوالی در ولایت کندز در شمال افغانستان را تصرف کردند. این تحرکات موجب نگرانی رهبران شمال افغانستان شده است که در ائتلاف میان عطامحمد نور والی ولایت بلخ که در عین حال ریاست اجرایی جمعیت اسلامی را به عهده دارد و جنرال عبدالرشید دوستم رهبر جنبش ملی بازتاب یافت. حمله به پارلمان و ضعف مقامات امنیتی پیشگیری چنین وقایع، می‌تواند به میان آمدن چنین ائتلاف را از توجیه قوی‌تری برخوردار سازد.

جنرال دوستم طی سخنانی گفت که اگر دولت به وی اجازه دهد، 20 هزار مرد مسلح را علیه طالبان به میدان خواهد آورد و طالبان را یا خواهد کشت و یا مجبور به تسلیم شدن خواهد کرد.

در شرایطی که تعداد نیروهای مسلح افغانستان به بیش از 350 هزار تن بالغ می‌گردد که در طول بیش از سیزده سال گذشته با مصارف سرسام‌آور صدها ملیارد دالر آموزش دیده‌اند، این سخنان جنرال دوستم به این معنی است که دیگر نباید اردو و پولیس ملی را جدی گرفت و برای مقابله با طالبان باید قدرت‌های منطقوی بار دیگر به منظور جنگ با طالبان به میدان بیایند.

## نتیجه گیری:

طالبان در این اواخر در کنار جنگ‌های جبهه‌ای که به سقوط یک تعداد ولسوالی‌ها منجر شده است، از حملات سمبولیک به مواضع مهم پایتخت غافل نیستند. این حملات هرچند دست‌آورد نظامی برای آنان به ارمغان نداشته، اما لااقل توانسته این نگرانی را در میان نیروهای امنیتی به میان آورد که آنها از حمایت پنهان بعضی از دست‌های قوی در دولت برخوردار اند. این مسئله می‌تواند بر روحیهٔ اردو تاثیر منفی از خود برجا بگذارد.

هرچند بعضی از رسانه‌ها تلاش کردند تا با مطرح کردن یک سرباز افغان به عنوان قهرمانی که به تنهایی شش مهاجم را از پا درآورده است، نشان دهند که نیروهای افغان از آمادگی خوب برای مقابله با طالبان برخوردار اند اما ائتلاف میان دوستم و نور نشان از حقایق تلخی دارد که حتی تبلیغات رسانه‌ها قادر به پنهان کردن آن نیست. آیا رهبران محلی در شمال نگران تکرار وقایع سوریه در افغانستان اند؟

هرچند عده‌ای این ائتلاف را در سرکوب مخالفین در شمال یک قدم مثبت به شمار می‌آورند، اما این کار به معنای ضعف روزافزون حکومت مرکزی و بازگشت افغانستان به دوران ملوک الطوایفی است که بعد از سرنگونی رژیم داکتر نجیب شاهد آن بودیم.

آرزوی ملت این بود که با به میان آمدن یک نظام مردم‌سالار در کشور، گرایش‌های قومی رنگ ببازد و در افغانستان یک حکومت مرکزی قوی شکل گیرد اما اکنون با ضعف حکومت مرکزی، دوباره قدرت‌های محلی سر بلند خواهند کرد و به زودی در نقاط دیگر کشور نیز حرکت‌های مشابه شکل خواهد گرفت.

با توجه به نگرانی کشورهای همسایه از تحولات اوضاع در افغانستان، کشورهای همسایه و منطقه نیز تلاش خواهند کرد تا در میان این گروه‌های محلی، حامیانی برای منافع خود بیابند و این خود به معنای دوام جنگ نیابتی در کشور است.

به نظر می‌رسد که غریو جنگ از قلب کابل و دروازۀ پارلمان تا سرحد آمو همچنان بر ندای صلح طلبی مسلط است و قدرتمندان هنوز هم به این باور اند که مشکل افغانستان از راه جنگ حل خواهد شد. تجربه‌ای که در گذشته بطلان آن بارها در عمل ثابت شده است.

# د روسيې او لوېديځ روانه سړه جګړه او پر سيمه يې اغېزې



په ۲۰۱۴ کال کې د اوکراين له بحران سره ډېری سياسي څېړونکو د روسيې او لوېديځ په تېره بيا اروپا ترمنځ د دويمې سړې جګړې په اړه تبصرې وکړې او نړۍ يې د يوې نوې سړې جګړې پر خوا تللې وبلله. د اوکراين بحران لاهم نه دی ختم شوی او د روسيې-امريکا او لويديځ اړيکې هم نه دي عادي شوې. په همدې حالت کې د روسي ولسمشر ولاديميرپوتين له تازه څرګندونو او بيا دغو څرګندونو ته د ناټو او امريکا له ځوابونو داسې ښکاري چې د روسيې-لويديځ کړکيچ به نور هم ژور شي او دا نوې (دويمه) سړه جګړه به نور هم زور واخلي.

د دې ترڅنګ د روانې مياشتې (جون) پر ۲۴مه او ۲۵مه په بلجيم کې د ناټو د دفاع وزيرانو غونډه هم وشوه، چې د روسيې، اروپا او افغانستان په تړاو پکې خبرې وشوې. دا چې نړۍ د يوې بلې سړې جګړې پر خوا روانه ده، د دغې نوې سړې جګړې شاليد څه دی او د روسانو او اروپا ترمنځ د اړيکو دغه کړکېچن پړاو به پر سيمې او نړۍ او په تېره بيا افغانستان څه اغېزې وښندي.

## د قضيې شالید

په ۱۹۱۷ کال کې په روسیه کې د کمونستانو له انقلاب سره د لوېدیځ پانګوال نظام له یوه کمونست رقیب نظام سره مخ شو او بیا له دویمې نړېوالې جګړې وروسته په رسمي توګه د شوروي او لوېدیځ ترمنځ "لومړۍ سړه جګړه پیل شوه، چې په نړیواله کچه یې د ژوند پر ډېری برخو اغېزې وښندلې. اروپا او امریکا د شورویانو او د کمونستانو د پراخېدونکي نظریې پرخلاف په ۱۹۴۹ کال کې په اروپا کې د ناټو سازمان جوړ کړ او د دغه سازمان په پنځمه ماده کې راغلي وو: «په یوه برید، پر ټولو برید دی!»

د دې ترڅنګ د امریکا ولسمشر ټرومین د خپل دکترین له مخې په آسیا او اروپا کې د کمونیزم نظریې حصار غوښت او وروسته بیا د "آیزن‌هاور" په دوره کې امریکا د منځني ختیځ او سوېلي آسیا هېوادونو سره یوځای د سیټو او سېنټو په تړونونو کې ننوت. دغو تړونونو پر شوروي څه اغېزه ونه ښندله خو کله یې چې پر افغانستان یرغل وکړ، د شوروي حیثیت ته یې زیان ورساوه او د نړۍ ډېری هېوادونه د افغان مجاهدینو تر شا ودرېدل چې له کبله یې شوروي له افغانستانه وتلو ته اړ شو.

## نوې سړه جګړه

په ۱۹۸۹ کال کې چې کله شورویان له افغانستان څخه ووتل، نو په اروپا او منځنۍ آسیا کې د خپلواکۍ غوښتونکو، په افغانستان کې د دوی د پوځي، سیاسي او ډیپلوماتیکې ماتې او خپلو اقتصادي ستونزو له کبله بالآخره شوروي اتحاد منحل شو.  د شوروي اتحاد په منحل کېدو سره په ختیځه اروپا او منځنۍ آسیا کې یو شمېر هېوادونو خپلواکي ترلاسه کړه او د نړۍ پاملرنه یې د ځان په لور ور جلب کړه.

که څه هم په دغو هېوادونو کې یو شمېر واکمنان د شوروي اتحاد همغه پخواني کمونستان وو، چې په ځینو ځایونو کې د هغوی په لرې کېدو باندې د لوېدیځ او روسیې ترمنځ اختلافات راپورته شول او وروسته بیا دغه اختلافات په بحرانونو او جګړو واوښتل.

په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کال په جورجیا او اوکراین کې د روسي-پلوو پرخلاف پاڅونونه پیل شول، چې د ګلاب او نارنجي انقلابونو په نامه یاد شول. دغو پاڅونونو روسي‌پلوي واکمنان ګوښه کېدو ته اړایستل او له کبله یې د روسیې او لویدیځ اړیکې ورځ تر بلې کړکیچنې شوې. په ۲۰۰۳ کال چې په جورجیا کې لویدیځ پلوی حکومت

راغی نو د جورجیا او د روسیې ترمنځ د «ابخازیه» او «سویلي اوزیتي» په سیمو لانجې پیل شوې. په ۲۰۰۸ کال کې دغه لانجې اوج ته ورسېدې او روسیې پر جورجیا یرغل وکړ چې له کبله یې د ابخازیې سیمې خپلواکي اعلان کړه.

همدا راز په ۲۰۰۴ کال کې په اوکراین کې روس-پلوي مشر "وېکټر یانوکووېچ" ټاکنې وګټلې؛ وروسته بیا خلکو د ټاکنو د پایلو پرخلاف نارنجي پاڅون پیل کړ، چې له کبله یې د اوکراین ستري محکمې د بیاټاکنو پرېکړه وکړه او په دویم ځل ټاکنو کې لویدیځ پلوي "وېکټور یوشېنکو" بریالی شو او په دې توګه د روسیې او لویدیځ اړیکې خرابې شوې؛ ځکه پوتین لویدیځ پر دې تورناوه چې د یانوکووېچ د بریا پر ضد پاڅونونو ته د لویدیځ له خوا لمن وهل شوې ده.

په ۲۰۱۰ کال کې بیا ټاکنې وشوې او دا ځل روس‌پلوي وېکټریانوکووېچ یو ځل بیا واک ته ورسېد اوا د هېواد بهرنۍ سیاست یې پر ناپېیلتوب متکي کړ. دغه حکومت له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې له اروپایي اتحادیې او روسیې سره ښې اړیکې درلودلې، خو کله چې وېکټر یانوکوېچ له اروپایي اتحادیې سره د ملتیا تړون پر سر خبرې اترې پیل کړې او خبره یوازې لاسلیک ته پاتې شوه، نو وېکټر یانوکوېچ د ماسکو د فشار له کبله په دغه تړون لاسلیک ونه کړ، چې له امله یې په اوکراین کې د یانوکووېچ پر خلاف پاڅونونه پیل شول او بیا په ۲۰۱۴ کال کې په یوه انقلاب بدل شول.

د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کې لویدیځ پلوي سوداګر پوروشېنکو واک ته ورسېد او په جون میاشت کې یې له اروپایي اتحادیې سره د ملتیا تړون لاسلیک کړ؛ خو د شوروي‌پلوي یانو کوېچ په لرې کېدو او له اروپایي اتحادیې سره د تړون له کبله د اوکراین په ختیزه برخه کې پاڅونونه پیل شول او د روسیې یرغل ته لاره پرانیستل شوه، چې له کبله یې وروسته د کریمیا روس‌نژاده سیمه د یوې ټولپوښتنې له لارې د روسیې برخه وګرځېده.

لویدیځ د اوکراین په قضیه کې تل د روسیې پر کړنو نیوکې کړې دي او ماسکو یې د دغه هر څه عمده لامل بللی دی. له همدې کبله یې له تېرو دولسو میاشتو راهیسې پر روسیې سخت بندیزونه هم لګولي دي او خپلې اړیکې یې تر ډېره حده له روسیې سره منجمدې کړې دي. د دې ترڅنګ روسیه له لویدیځ سره د سوریې او ایران په قضیه کې هم اختلافات لري.

## د روسيې ګواښ او د لوېديځ غبرګون

**اروپا ته د امريکا د دفاع وزير سفر:** د پوتين د تازه څرګندونو پر ضد د امريکا دفاع وزير ايشتن کارتر، اروپايي هېوادونو ته سفرونه وکړل. په دغو سفرونو کې تر ټولو مهم دا وو، چې امريکا به له دوو کلونو وروسته بيا اروپا ته خپلې وسلې ولېږدوي. په دې تړاو د ايستونيا، ليتونيا، لاتيويا، بلغاريا، رومانيا او پولېنډ چارواکو د امريکايانو د وسلو کوربه‌توب منلی دی. ويل کېږي چې امريکا به اروپا ته د يوه غونډ د اړتياو په اندازه وسلې ولېږدوي.

**د ناټو غبرګون:** په اوکراين کې له يوه کال راهيسې د اختلافاتو، جګړو او د پوتين د وروستيو څرګندونو چې روسيه به ۴۰ قاره‌ويشتونکي توغندي په خپل اتومي سلاکوټ کې شامل کړي، تر ډېره حده اروپا پارولې ده. د روسيې د دغو کړنو په غبرګون کې ناټو په پولينډ کې د پوځي عملياتو تمرينات پيل کړي او د جون په ۲۴ او ۲۵ نېټه يې د دفاع وزيرانو غونډه هم وشوه، چې پکې د اوکراين، روسيې او افغانستان په تړاو خبرې اترې وشوې. په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه، چې ناټو به د خپل غبرګون-ځواک پوځي قطعې د سرتېرو شمېره له ۱۳ زرو څخه ۴۰ زرو ته لوړه کړي، همدا راز به خپلې اتومي وسلې هم نوې کړي.

د دې ترڅنګ به ناټو په شپږو اروپايي هېوادونو کې د ناټو وړې وړې قوماندانۍ هم جوړوي، چې تر ډېره به د ختيزې اروپا په بلغاريا، ايستونيا، لاتويا، ليتونيا، پولينډ او رومانيه کې وي. دا حالت په ښکاره توګه د سړې جګړې د سيناريو ښودنه.

## پر سيمه او نړۍ د پيل شوې سړې جګړې اغېزې

که څه هم امريکايان ځانونه د "دويمې" سړې جګړې له پيلېدو څخه ژغوري او په همدې موخه يو ځل د امريکا ولسمشر اوباما وويل، چې دا نوې سړه جګړه نه ده، بلکې دا د روسيې له خوا د اوکراين خوښه نه منل دي[1]. د امريکا دفاع وزير هم اروپا ته په سفر کې ورته خبره کړې، چې دوی د سړې جګړې پيلول نه غواړي[2]؛ خو له دغو ډيپلوماتيکو احتياطونو سره سره، د روسيې او لويديځ ترمنځ نوې سړه جګړه په يوه غير رسمي بڼه پيل شوې ده.

---

[1] Office of the White House Press Secretary, 'Statement by the President on Ukraine', 29 July 2014, http://www.whitehouse.gov/the-press-office/2014/07/29/statement-president-ukraine

[2] Jonathan Beale, Moving ever closer to a new cold war, BBC NEWs, 24 June 2015, see online:< http://www.bbc.com/news/world-europe-33237439>

اوسمهال روسیه او لویدیځ په سړه جګړه کې سره بوخت دي؛ خو له روسیې وراخوا دغه سړه جګړه سوریې، ایران، اوکراین ، ختیزې اروپا او منځنۍ آسیا ته هم غځېدلې ده. روسیې په ملګرو ملتونو کې د بشار الاسد پرخلاف د لویدیځ قراردادونه ویټو کړل او ایران ته یې د Antey-2500 هواِیي دفاع سیستم پلورلو وړاندیز کړی. په اوکراین کې یې د کریمیا سیمه راخپله کړې او په ختیځه اروپا کې یې هم له ناټو سره رقابت پیل شوی دی.

همدا راز نوې سړه جګړه به له یوې خوا په سیمه کې د وسلو پر سر رقابت پیدا کړي او له بلې خوا که چېرې نړۍ بیا سره ووېشل شوه، ښايي کورنۍ جګړې هم زیاتې شي. ځکه د پوتین وروستۍ څرګندونې چې دوی به ۴۰ لویه‌وچه‌ویشتونکي توغندي په خپل اتومي سلاکوټ کې شامل کړي، اروپا او امریکا پارولې دي. امریکا هم د پوتین د دې خبرې په غبرګون کې په اروپا کې له خپل یوه پوځي غونډ سره د ټانکونو او نورو تجهیزاتو د ځای پرځای کولو تابیا کوي او په بل اړخ کې ناټو هم د غبرګون-ځواک قطعې د سرتېرو شمېره له ۱۳ زرو څخه ۴۰ زرو ته لوړه کړې او هڅه کوي، چې خپلې اتومي وسلې نوې کړي. د دې ترځنګ به په اروپا کې شپږ وړې وړې قوماندانۍ هم جوړوي. دغه هر څه په سیمه په تېره بیا په اروپا کې د وسلو رقابت رامنځته کوي او له کبله به یې په هر هېواد کې د وسلو لوی شرکتونه نور هم ځواکمن شي. دغه د وسلو لوی شرکتونه به بیا په اوږده مهال کې د نړۍ پر امنیت هم ژوره اغېزه وښندي.

که په اروپا کې همدا شان د روسیې او اروپايي ټولنې ترمنځ سړه جګړه او اړودوړ روان وي، نو دا به د اروپا په اقتصادي حالت ژوره اغېزه وښندي. د بیلګې په ډول په ۲۰۱۴ کال کې د اوکراین صنعتي وده شل سلنه او اقتصادي پرمختګ یې ۱۰ سلنه راښکته شوی دی.

د ایکانومېسټ د یوې څېړنې له مخې د سړې جګړې تر پای پورې د نړۍ تقریباً ۱۸ سلنه خلکو د کورنیو جګړو ناخوالې لیدلې وې، ځکه د سړې جګړې یوه لوري به له یوه مخالف او بل لوري به له بل مخالف څخه ملاتړ کاوه او په دې توګه په نورو هېوادونو کې نیابتي او کورنۍ جګړې روانې وې؛ خو د سړې جګړې له ختمېدوسره نړۍ د سړې جګړې د پړاو په پرتله کمې کورنۍ جګړې ولیدلې؛ ځکه دا ځل مخالف ملاتړ کوونکي نه وو.[3]

د دې ترځنګ دغې سړې جګړې روسیه او چین له یو بل سره نور هم نږدې کړل. البته که روسیه غواړي، چې چین یې په دغه سړه جګړه کې ملګری وي، نو باید د چین په سویلي سمندر کې له بیجینګ څخه ملاتړ وکړي.

[3] How to Stop Fighting, Sometimes', The Economist, 7 November 2013, http://www.economist.com/news/ briefing/21589431-bringing-endconflicts-within-states-vexatioushistory-provides-guide

که څه هم امريکا او روسيې له تېرې يوې لسيزې راهيسې اختلافات لرلي دي؛ خو له د دغو اختلافاتو سره سره بيا هم دواړو هېوادونو په يو شمېر ډګرونو -لکه په افغانستان کې- له يو بل سره همکارۍ کړې دي. خو دغې نوې سړې جګړې د امريکا او روسيې ترمنځ د همکارۍ په ډګرونو هم اغېزه ښندلې او روسيې يو څه موده وړاندې د ناټو پر مخ اکمالاتي لاره هم بنده کړه.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

شمارۀ تماس: 784089590 (93+)